مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

مصطفی پسرلی ۲۰۱۹/۰۶/۲۶

# غزل

په عبادت کې سیاست روان دی
په نوم د عدل، رذالت روان دی

چا چې مې وینه نن، پرون څښلې ده
د هغو خلکو ښه عزت روان دی

ویاړونه ټول رانه لمبو وسیزل
د استدلال ګام په وحشت روان دی

د سرحدونو واک پردی شو رانه
پر اقتدار پوچ رقابت روان دی

سوله چې نه راځي علت یې دادی
چې یې په نوم منافقت روان دی

وطن به څنګه پسرلیه جوړ شي؟
چې په مشرانو کښې خیانت روان دی

مصطفی پسرلی
26/06/2019



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ